د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

گڼه: 396

(9 – 15 میزان 1401 هـ ش)

# د نجونو د تعليم قضيه؛ د اسلامي امارت لپاره ستره ننګونه



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د نجونو د تعلیم قضیه؛ د اسلامي امارت لپاره ستره ننګونه .......................................... 3

- سریزه........................................................................................ 3
- په افغانستان کې د نجونو د تعلیم مخینه ............................................................ 5
- د نجونو د تعلیم په اړه د اسلامي امارت دریځ............................................................ 7
- د نجونو د تعلیم شرعي اړخ ............................................................ 9
- د نجونو د تعلیم د بندیدا پایلې او اغېزې ............................................................ 10
- وړاندیزونه ................................................................................ 11

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د نجونو د تعلیم قضیه؛ د اسلامي امارت لپاره ستره ننګونه

## سریزه

د تېر ۲۰۲۱م کال له اګست میاشتې راهیسې په ټول افغانستان کې له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځي رسما د اسلامي امارت له لوري تړل شوي دي. که څه هم دا قضیه له تېر کال راهیسې په ملي او نړیواله کچه تر ټولو ګرمه موضوع وه، خو په دې وروستیو کې د اسلامي امارت د ځینو چارواکو څرګندونو دغې قضیې ته د بل هر وخت په پرتله زیاته توجه اړولې ده.

دا قضیه اوس ځکه د اسلامي امارت لپاره یوه جدي ننګونه بلل کېږي، چې ښکاري د اسلامي امارت د مشرانو لپاره په دې اړه پرېکړه د نظرونو د اختلاف له کبله سخته شوې ده، او ترڅنګ یې دا چې دغه قضیه په ملي او نړیواله کچه له اوسني نظام څخه د نارضایتۍ یوه مهمه سرچینه هم ده، باور دا دی چې په دې اړه هر ډول پرېکړه به په ټوله کې د اوسني نظام لپاره برخلیک ټاکونکې وي.

د اسلامي امارت چارواکو له تېر کال راهیسې په پرله پسې توګه ویلي چې د نجونو له تعلیم سره مخالف نه لري، خو په دې برخه کې د شته تخنیکي ستونزو د هواري لپاره پر حل لارو او مېکانیزمونو کار کوي. همدا لامل و، چې د تېر ۱۴۰۰ تعلیمي کال په پای کې پوهنې وزارت اعلان وکړ، چې ښځینه زده‌کوونکو ته به له زده‌کړو او ازموینو ورکولو پرته یو کال ارتقاء ورکوي.

د ۱۴۰۱ تعلیمي کال له پیلېدو سره له شپږم ټولګي پورته د نجونو پر تعلیم د بندیز غځېدا دا قضیه یوه نوي پړاو ته داخله کړه او داسې انګېرنې او اندېښنې زیاتې شوې، چې ممکن اسلامي امارت له دې وروسته له لویه سره د نجونو تعلیم ته اجازه ورنه کړي. په ځینو نورو مهمو مناسبتونو کې هم د نجونو د تعلیم په اړه چوپتیا غوره شوه. د بېلګې په توګه، په کابل کې د علماوو د غونډې جوړېدو او د دې غونډې د پای په پرېکړه‌لیک کې د نجونو د تعلیم په اړه خاموشۍ دا اندېښنه لا پسې پیاوړې کړه.

لا هم اسلامي امارت د نجونو د ښوونځیو د پرانیستل کېدو یا بند پاتې کېدو په اړه خپل روښانه دریځ نه دی اعلان کړی. تر اوسه د دې ستونزې عوامل تخنیکي بلل کېدل، خو په دې وروستیو کې ځینو چارواکو په خپلو څرګندونو کې په یو ډول د نجونو د ښوونځیو د نه پرانیستل کېدو لاملونه بیان کړل.

د پوهنې وزارت پخوانی سرپرست مولوي نورالله منیر د سنبلې په ۲۰مه (۱۴۰۱ لمریز) په اروزګان ولایت کې یوې خبري غونډې ته د [وینا](#) پر مهال د نجونو د ښوونځیو نه پرانیستل کېدو لامل کلتوري محدودیتونه وبلل. هغه وویل، چې په لرې پرتو سیمو کې خلک خپله نه غواړي خپلې ځوانې لوڼې ښوونځیو ته ولېږي. د هغه په تېکو، «که تاسو له بازار څخه لږ ووځئ او د غرونو په لمنو کې له سپین ږیرو پوښتنه وکړئ، پوه به شئ چې څو فیصده خلک دې ته چمتو دي چې خپله ۱٦ کلنه ۱۷ کلنه لور مکتب ته ولېږي. مورږ او تاسو ته د دې ټولنې کلتور معلوم دی او کومو حکومتونو چې د دغه کلتور خیال نه دی ساتلی، پر خلاف یې پاڅونونه راپیدا شوي دي.» د ده په وینا، له دې سره سره دوی هڅه کوي څو داسې شرایط رامنځته کړي چې د خلکو اعتراض هم رانشي او تعلیم هم پر خپلو اصولو برابر شروع شي. له دغو څرګندونو وروسته نوموړی د پوهنې وزارت له سرپرستۍ څخه هم لرې او پر ځای د کندهار د علماوو شورا پخوانی سرپرست مولوي حبیب الله اغا د پوهنې وزارت سرپرست وټاکل شو.

د پوهنې وزارت پخوانی سرپرست هم دا څرګندونې وروسته له هغه وکړې، چې په پکتیا کې څو ښوونځي د خلکو او د ښوونځیو د مدیرانو له لوري د نجونو پر مخ پرانیستل شول خو د دغه خبر له خپرېدو وروسته بېرته وتړل شول، چې له کبله یې پر خواله رسنیو د خلکو پراخ غبرګونونه ولیدل شول او د سیاسي شخصیتونو او دیني علماوو په ګډون زرګونه افغانانو د وزیر دا څرګندونې رد کړې او په پکتیا کې هم د نجونو د ښوونځیو شاګردانو لاریونونه وکړل او ولسونو یې اعتراضیه غونډې جوړې کړې. په پکتیا کې دا ښوونځي داسې مهال بېرته وتړل شول، چې په یو شمېر ولایتونو کې له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځي پرانیستي دي او د حکومت له لوري یې د تړلو اقدام نه دی شوی.

تازه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شیرمحمد عباس ستانکزي د میزان په ۵مه نېټه (۱۴۰۱) په کابل کې د یوې غونډې پر مهال د نجونو د ښوونځیو ژر تر ژره پرانیستل کېدو غوښتنه وکړه. نوموړي وویل چې تعلیم پر نر او ښځه فرض دی او د نجونو د تعلیم پر وړاندې هېڅ شرعي ستونزه نشته. خو په هماغه غونډه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر سرپرست وزیر د نوموړي څرګندونې رد کړې او عصري تعلیم یې مباح وباله. د نوموړي له څرګندونو جوته شوه چې د نجونو ښوونځي د اسلامي امارت د امیر په حکم تړل شوي دي او د امیر د حکم عملي کول واجب دي.

دا چې د ۱۴۰۱ لمریز تعلیمي کال پای ته په نږدې کېدو دی، نه یوازې دا چې د سږ کال لپاره د نجونو د ښوونځیو پرانیستل کېدو تابیا نه لیدل کېږي، بلکې د راتلونکي کال لپاره هم روښانه تصویر نشته او دا اندېښنې شته دي چې راتلونکی کال به هم دا ښوونځي تړلي پاتې شي. اوس پوښتنه دا ده چې د نجونو د ښوونځیو پر بندیز غځېدا به د اسلامي امارت لپاره په ملي او نړیواله کچه څه پایلې او اغېزې ولري؟ په دې تړاو د اسلامي امارت پالیسي څه ده او اصلي ستونزه چېرته ده؟ دا او دې ته ورته پوښتنې د نجونو د تعلیم پر شرعي اړخ د بحث او په افغانستان کې د نجونو تعلیم ته له یوې تاریخي کتنې سره ځواب شوې دي او په پای کې یې اړوند وړاندیزونه شوي دي.

## په افغانستان کې د نجونو د تعلیم مخینه

په ټوله کې که لږ تر لږه د تېر یوه قرن تحولاتو ته وګورو، نه یوازې د تعلیم په برخه کې بلکې د ژوند په نورو برخو کې هم د افغان ښځو ژوند له لوړو ژورو تېر شوی دی. په ځینو پړاوونو کې یې په خورا زیاتو قیوداتو کې ژوند کړی او په ځینو پړاوونو کې بیا له افراطي آزادۍ څخه په ځانګړې توګه ښارونو کې برخمنې شوې دي چې په ډېرو برخو کې یې اسلامي او کلتوري پولې هم ماتې کړې دي. له همدې کبله، په افغانستان کې د نجونو تعلیم هم د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو تحولاتو له کبله له ستونزو سره مخ شوی، چې تر ډېره یې لامل په هېواد کې سیاسي او امنیتي بې‌ثباتي او د وخت د حاکمانو فکري توپیرونه او سیاستونه وو. بله ستونزه په تېرو ټولو دورو کې دا هم وه چې له ښځو څخه په ټولو دورو کې تر ډېره تبلیغاتي استفاده هم شوې ده.

په لومړي ځل د امیر امان الله د سلطنت پر مهال نجونو ته د تعلیم زمینه برابره شوه او د نجونو لومړنی ابتدائیه ښوونځی په ۱۲۹۹ کال کې په کابل کې پرانیستل شو، چې هغه مهال یې د زده کوونکو شمېر ۴۰ تنو ته رسېده. امان الله خان د خپلې واکمنۍ په دوره کې نه یوازې په داخل کې د نجونو تعلیم ته زیاته زمینه برابره کړه، بلکې له هېواده بهر یې هم یو شمېر نجونې د تحصیل لپاره ولېږلې. په ۱۳۰۷ لمریز کال کې بیا حبیب الله کلکاني د خپل ۹ میاشتنۍ حکومت په دوره کې د نجونو ښوونځي وتړل او ترڅنګ یې له کوره د باندې له محرم پرته د ښځو او نجونو وتل هم ممنوع اعلان کړل او فرمان یې صادر کړ چې هغه نجونې، چې بهر ته د امیر امان الله خان په دوره کې د تحصیل لپاره تللې وې، باید بېرته هېواد ته راوګرځي. تاریخ پوهان په دې باور دي چې وروسته بیا نادرخان هم د امان الله خان د دورې تجربې ته په کتلو سره د ښځو تعلیم او تحصیل ممنوع اعلان کړ، ترڅو یې دا مسئله واکمنۍ ته ستونزې جوړې نه کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د محمد ظاهرشاه په ۴۰ کلنه واکمنۍ کې یو ځل بیا د ښځو د تحصیل او پرمختګ فرصتونه رامنځته شول او په سیاسي لحاظ هم ښځې د لومړي ځل لپاره د وزارت او وکالت تر څوکیو ورسېدې؛ خو بیا هم دا پرمختګونه تر ډېره د هېواد تر سترو ښارونو پورې محدود وو. که غواړو د هغه مهال د ښځینه وو د تعلیم یو تصویر وړاندې کړو، د هغه مهال شمېرې ښیي چې په ۱۳۳٦ کال کې په اطرافي سیمو کې د ښځینه زده کوونکو شمېر ۱۵۳ تنو ته رسېده؛ خو د محمد ظاهرشاه د دورې په وروستیو کې (په ۱۳۴۸ لمریز کال کې) د ټول هېواد په کچه د ښځینه زده کوونکو شمېر ۱۰۴۵۰ تنه و چې په ۱۷۳ ښوونځیو کې یې زده کړې کولې. دغه وضعیت په ۱۳۵۲ کال کې د لومړي جمهوري نظام او ورپسې په ۱۳۵۷ کال کې د پخواني شوروي تر ملاتړ لاندې نظامونو پر مهال هم له ځینو لوړو ژورو سره دوام وکړ.

د مجاهدینو په څلور کلنه دوره کې چې د کورنیو جګړو اوج و، هم د نجونو زده کړې ونه درېدې؛ خو داسې فتوا صادره شوه چې له مخې یې د نجونو او هلکانو مختلط تعلیم او کار ممنوع شو. په دې دوره کې بیا امنیتي وضعیت د دې جوګه نه و چې ښځې پکې وکړای شي په ډاډ سره زده کړې او یا کار وکړي. په ۱۳۷۵ کال کې د طالبانو له واک ته رسېدو سره بیا دا هر څه په بنسټیز ډول بدل شول او د ښځو د کار او تعلیم په برخه کې زیات بندیزونه ولګېدل.

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر له پېښو وروسته د طالبانو د نظام ړنګېدو او نوي نظام رامنځته کېدو یو ځل بیا بنسټیز بدلونونه رامنځته کړل او د ۲۰۲۱ کال تر اګست پورې د ښځو کار او تعلیم ته په پراخه کچه زمینه برابره شوه؛ خو په دې دوره کې بیا تر ډېره افراط او تفریط موجود و او تر ډېره په لویو ښارونو کې د ښځو له ازادیو منفي او ناسمه استفاده کېده، حال دا چې په اطرافو او لرې پرتو سیمو کې بیا هم ښځو سخت ژوند درلود او تر ډېره د امنیتي ستونزو له کبله له زده کړو هم بې برخې وې.

که په تېره شل کلنه دوره کې د نجونو د تعلیم وضعیت ته کتنه وکړو، ښکاري چې په هر صورت د کمیت له پلوه په دې برخه کې پرمختګ موجود و. د بېلګې په توګه د بې سواده مېرمنو شمېر کال په کال په کمېدو و. د شمېرو له مخې، په ۱۳۸۸ کال کې ۳۱۲۰۰ د سواد زده کړې مرکزونه په ټول هېواد کې فعال وو، چې پکې تر ۳۹۵ زره زیاتو ښځینه زده کوونکو له ۸۸٦۰ ښځینه ښوونکو څخه زده کړه کوله؛ خو دا شمېر شپږ کاله وروسته په ۱۳۹۴ کال کې نژدې نیمایي ته راټیټ شو او د ټول هېواد په کچه په ۱۷۴۰۰ د سواد زده کړې مرکزونو کې ۲۱٦ زره ښځینه زده کوونکو له ۴۲۰۰ ښځینه ښوونکو څخه زده کړې کولې. په همدې توګه د تعلیم او تحصیل په برخه کې هم کال په کال پرمختګ ولیدل شو. د ځینو آمارو له مخې په ۱۳۸۸ کال کې په خصوصي او دولتي پوهنتونونو کې د ښځینه محصلینو شمېر ۱۲۹۵۰ تنه او د ښځینه استادانو شمېر ۴۵۴ تنه و؛ خو دا شمېره په ۱۳۹۴ کال کې څو برابره زیاتوالی ښیي او په ترتیب سره ٦۳۹۷۴ او ۱٦۱۴ تنه وه.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د نجونو د تعلیم په اړه د اسلامي امارت دریځ

که د طالبانو د واکمنۍ دواړو دورو ته وګورو، شک نشته چې په دغو دواړو دورو کې د نجونو تعلیم او تحصیل د سختو سیاستونو له کبله له ستونزو سره مخ شوی دی؛ خو بیا هم په یو نه یو ډول د نجونو د تعلیم او تحصیل بهیر روان و او په بشپړه توګه دربدلی نه دی. که څه هم د طالبانو د اوسني نظام په پرتله په تېره دوره کې د ښځینه وو د تعلیم او تحصیل په اړه د دوی سیاستونه لا ډېر سخت وو، خو هغه مهال هم دا بهیر په بشپړ ډول دربدلی نه و. اوسمهال هم رسما تر شپږم ټولګي پورې د ټول هېواد په کچه او تر شپږم ټولګي پورته د هېواد په ځینو سیمو کې په غیررسمي توګه دا بهیر روان دی. په دغو دواړو دورو کې طالبانو د نجونو د تعلیم بشپړ مخالفت نه دی کړی، بلکې په یو ډول یې محدود کړی او ټینګار یې کړی چې د شریعت له اصولو سره سم د نجونو د تعلیم مخالف نه دي. په دې تړاو د طالبانو اوسنیو سیاستونو ته وروسته لنډه کتنه کوو، خو دلته په لاندې کرښو کې د تېرې دورې یو ځغلند جاج اخلو.

که د طالبانو په تېره دوره کې د معارف د برخې آمارو ته کتنه وکړو، ښکاري چې په دې دوره کې که څه هم کال په کال د ښځینه وو د تعلیم کچه راټیټه شوې خو بیا هم په یو نه یو ډول دا بهیر روان و او تر ډېره ځینو خیریه مؤسساتو د هغوی په فعال ساتلو کې رول درلود، چې له جملې څخه یې د سویډن کمېټه یادولی شو. د شمېرو له مخې، د طالبانو تر واکمنۍ وړاندې په ۱۳٦۹ کال کې د ښځینه متعلمینو کچه ۳۴ سلنه وه، خو په ۱۳۷۸ کال (د طالبانو د حاکمیت په دوره کې) دا کچه ۷ سلنه ته راټیټه شوې وه. په ۱۳۷۸ لمریز کال کې د یونسکو سازمان له راپور سره سم، د ټول هېواد په کچه ۸۷۵ زره تنو په ۳۱۰۰ ښوونځیو او د اساسي تعلیماتو په غیررسمي مراکزو کې زده کړې کولې، چې ٦۴ زره تنه پکې ښځینه متعلمینې وې. د دغه راپور له مخې، د ۲۳۸۲۰ ښوونکو له جملې څخه هم ۲۵٦۵ یې ښځینه ښوونکې وې. خو بیا هم د طالبانو د واکمنۍ دغه پنځه کلنه دوره د یوې داسې دورې په توګه پېژندل کېږي، چې د نجونو تعلیم او تحصیل پکې له ستونزو سره مخ و.

د تېر ۲۰۲۱ کال له اګست وروسته چې کله د امریکا او ناټو تر ملاتړ لاندې جمهوري نظام ړنګ شو او طالبان بیا واک ته ورسېدل، ورسره یو ځل بیا له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځي هم بند شول؛ خو د اسلامي امارت چارواکو له هماغې لومړۍ ورځې راهیسې هېڅکله هم رسما د نجونو د تعلیم او تحصیل مخالفت نه دی کړی او تل یې ویلي چې د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو لپاره پر طرحو کار روان دی. یو دلیل دا هم ویل کېږي، چې که اسلامي امارت د نجونو د تعلیم او تحصیل مخالف وی او یا هم د نجونو تعلیم او تحصیل شرعي

ستونزه لرلای، نو د عالي تحصیلاتو په دوره کې به يې هم نجونو ته د زده کړو اجازه نه وای ورکړې، حال دا چې اوسمهال د پوهنتونونو دروازې د نجونو او هلکانو ټولو پر مخ پرانیستې دي.

اوس چې په متوسطه او لیسه دورو کې د نجونو پر تعلیم بندیز تر یوه کال واوښت، د اسلامي امارت د ځینو چارواکو له ځرګندونو داسې ښکاري چې د طالبانو د مشرانو ترمنځ تر شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعلیم او تحصیل په اړه اختلاف شته دی او ځینې مشران يې په بشپړ ډول تر شپږم ټولګي پورته د نجونو له تعلیم سره مخالف دي. دوی پر دې باور دي چې تر شپږم ټولګي پورته نجونې د ځوانۍ مرحلې ته داخلېږي او باید په کور کې پاتې شي. دا دریځ تر ډېره د اسلامي امارت د نظام په اړه د طالبانو د قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني له کتاب څخه هم ځرګند دی. نوموړي په خپل کتاب کې دې ته ترجیح ورکړې چې ښځې باید په خپل کور کې له خپلو محارمو څخه زده کړې وکړي او که د ډېر اشد ضرورت پر مهال له کوره دباندې تعلیم او تحصیل کوي، يا خو يې ښوونکې باید ښځینه وي او یا هم د نارینه ښوونکو او ښځینه زده کوونکو ترمنځ کامله پرده موجوده وي. د طالبانو د ځینو مشرانو له ځرګندونو بیا داسې ښکاري چې د طالبانو د اوسنیو مشرانو غوڅ اکثریت په ټولو دورو کې د نجونو د تعلیم او تحصیل ملاتړ کوي؛ خو لا بریالي شوي نه دي چې د نجونو د تعلیم مخالفینو ته قناعت ورکړي.

د شیخ فقیرالله فایق په نوم د طالبانو یوه چارواکي، چې رسنیو په کابل کې د طالبانو د علماوو د شورا رئیس معرفي کړی، ویلي چې د طالبانو رهبر د نجونو د تعلیم مخالف نه دی او ډېر ژر به له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځي پرانیستل شي. کوم څه چې نوموړي د نجونو د ښوونځیو د بندیز د غځېدا لامل ګڼلی هغه مختلط تعلیم دی؛ خو د پوښتنې وړ خبره دا ده چې د نجونو ښوونځي په تېره شل کلنه دوره کې په بشپړ ډول جلا وو او هېڅ ځای داسې ښوونځی نشته چې د نجونو او هلکانو ټولګي يو ځای وي، نو له همدې کبله ګومان نه کېږي چې دا قضیه دې د نجونو د تعلیم مانع وي. حتی که د نجونو او هلکانو ښوونځي مختلط هم وای، دا ډېره اسانه چاره ده چې سره جلا کړل شي.

په کابل کې د سرطان میاشتې (۱۴۰۱ل) په لومړیو کې د اسلامي امارت له لوري لویې جرګې ته ورته د دیني علماوو یوه ستره غونډه هم راوبلل شوه، چې د طالبانو رهبر شیخ هبت الله اخندزاده هم پکې ګډون او وینا وکړه، خو د خپلې وینا پر مهال يې د نجونو تعلیم ته هېڅ ډول اشاره هم ونه کړه. ویل کېږي چې د غونډې د ګډونوالو یوه غوښتنه هم د غونډې په پرېکړه لیک کې د نجونو د تعلیم خبره شاملول وو، خو دا غوښتنه په پام کې ونه نیول شوه او وویل شول چې په دې تړاو لا د مشرانو ترمنځ بحثونه روان دي. په دې غونډه کې د نجونو د تعلیم د قضیې په اړه خاموشي اختیارول هم د دې لامل شول، چې د نجونو د تعلیم په اړه د اسلامي امارت پر پالیسۍ شکونه او اندېښنې زیاتې کړي.

## د نجونو د تعليم شرعي اړخ

وروسته له هغه چې په کابل کې د يوې غونډې پر مهال د اسلامي امارت دوو چارواکو د نجونو د تعليم په اړه روښانه څرګندونې وکړې، د دې قضيې د شرعي اړخ په اړه هم پراخ بحثونه راپورته شول.

د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين او په تېرو کلونو کې له امريکا سره د طالبانو د مذاکره کوونکي ټيم مشر شيرمحمد عباس ستانکزي په خپله وينا کې په ښکاره ټکو وويل، چې د نجونو د تعليم پر وړاندې هېڅ شرعي ستونزه نشته او که څوک وايي چې شرعي ستونزه لري، بايد خپل غږ پورته کړي څکه د ده په وينا د تعليم تاييدوونکي خو ټول په ډاګه له خپل دريځ څخه دفاع کوي. نوموړي د نر او ښځې تعليم مطلق فرض وباله او د نجونو د ښوونځيو ژر تر ژره پرانيستل کېدو غوښتنه يې وکړه. خو په همدې غونډه کې بيا د امر بالمعروف سرپرست وزير خالد حنفي بيا د ښاغلي ستانکزي خبرې رد کړې او تعليم يې په ديني او دنيوي برخو ووېشه. هغه وويل چې دنيوي تعليم مباح عمل دی، خو د امير د حکم متابعت واجب دی. د ده له خبرو په واضح دا څرګنده شوه چې د نجونو ښوونځي د اسلامي امارت د مشرتابه په حکم تړل شوي دي.

له دغو څرګندونو وروسته يو زيات شمېر ديني علماوو د ښاغلي حنفي خبره په کلکه رد کړه او د شرعي نصوصو په رڼا کې يې دنيوي تعليم پر نر او ښځه فرض کفايي وباله. د ځينو دغو استدلالونو نچوړ دا دی، چې په شرعي چوکاټ کې د علم تحصيل يا خو فرض عين دی، يا فرض کفايي دی او يا هم د وګړو اساسي حق دی چې د الله تعالی له لوري ورکړل شوی او هېڅوک يې نه شي ترې اخيستلی. د حنفي فقهې له مخې، د بېلګې په توګه د حنفي فقهې معتبر کتاب ردالمحتار د نص پر بنسټ، هغه علوم او فنون چې د ژوند اړتياوې ورپورې تړلې دي، د کفايت په اندازه يې زده کړه فرض ده، يعنې دومره خلک يې بايد زده کړې چې د ټولنې مشکلات او د خلکو حاجتونه پرې حل شي. د دې معنا دا هم نه ده چې د کفايت تر کچې زيات يې جواز نه لري. په تېره بيا په اوسني وخت کې چې اسلامي ټولنې له پراخو ننګونو سره مخ دي، له عصري تعليم پرته ناشونې ده چې له دغو ستونزو او ننګونو سره دې مبارزه وشي.

په دې توګه نه يوازې دا چې د ښځو د عصري تعليم د ناروا والي په اړه هېڅ ډول شرعي دليل بلکې يو ضعيف حديث هم نشته، بلکې د اسلامي شريعت او په ځانګړې توګه حنفي فقهې پر بنسټ د ګڼو دلايلو له مخې فرض کفايي بلل شوی. په ساده توګه ځينې خلک د ښځينه ډاکترانو د اړتيا دليل وړاندې کوي، خو ديني علماء بيا دا يو سوء تفاهم بولي او وايي چې هره ټولنه يوازې ښځينه ډاکترانو نه، بلکې په بېلابېلو برخو کې د ښځو تعليم او تحصيل ته اړتيا لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اوس تر ډېره باور دا دی، چې یوازې د اسلامي امارت یو شمېر مشران د خپل سخت دریځي برداشت له مخې د نجونو د تعلیم مخالف دي او ناروا یې بولي؛ خو په ورته وخت کې دا استدلال هم شته دی، چې که د نجونو تعلیم او تحصیل ناروا دی، بیا یې ولې د پوهنتونونو په دوره کې د نجونو زده‌کړو ته اجازه ورکړې ده؟! او دا ښیي چې د اسلامي امارت د مشرانو ترمنځ هم په دغه سخت دریځي موقف د ټولو توافق نشته دی.

## د نجونو د تعلیم د بندیدا پایلې او اغېزې

په تېر څه کم یوه کال کې د اسلامي امارت په اړه په ملي او نړیواله کچه د نارضایتۍ او ستونزو یو اساسي لامل تر شپږم ټولګي پورته د نجونو پر تعلیم بندیز بلل کېږي. باور دا دی، چې که تر دې زیات تر شپږم ټولګي پورته د نجونو پر تعلیم بندیز دوام کوي په ملي او نړیواله سطحه به ستونزې او ننګونې ورو ورو نورې هم زیاتې کړي. دلته ځینو دغو پایلو او اغېزو ته اشاره کوو:

**لومړی:** د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو وروسته د طالبانو په اړه د ځینو نارضایتیو ترڅنګ په ملي او نړیواله کچه خوشبیني هم موجوده وه، ځکه له یوې خوا یې په هېواد کې جګړې ته د پای ټکی کېښود او له بلې خوا یې د تېر نظام له چارواکو او منسوبینو سره خورا نرم چلند وکړ؛ خو د نجونو پر تعلیم د بندیز غځېدا په ښکاره توګه دغه خوشبیني اغېزمنه کړه او ان د طالبانو په صفونو کې دننه یې زیات خلک ناراضه کړل. که د نجونو پر تعلیم بندیز نور هم وغځېږي، ممکن په نظام کې دننه جدي اختلافاتو او درزونو ته هم لاره هواره کړي.

**دویم:** اوسنۍ نړۍ د یوه کلي حیثیت لري او له نورې نړۍ سره له تعامل پرته شونې نه ده چې د اسلامي امارت نظام دې ډېر دوام وکړای شي. د نجونو تعلیم یوه هغه قضیه ده چې د نړیوالو له لوري یې د اسلامي امارت د حکومت په رسمیت پېژندل ستونزمن کړي دي. د نورې نړۍ هېوادونه خپلو وګړو ته دا قناعت نه شي ورکولی چې طالبان بشري حقونه رعایتوي.

**دریم:** که د نجونو پر تعلیم بندیز دوام کوي، ډېر افغانان به ورو ورو له هېواده د وتلو په فکر کې شي، ځکه اوسنی نسل نه غواړي چې لوڼې او خویندې یې له زده کړو بې برخې پاتې شي. په تېرو څو میاشتو کې هم داسې موارد عملا لیدل شوي، چې ځینو خلکو د خپلو لوڼو پر تعلیم د بندیز له کبله هېواد پرې اېښی دی. دا به له هېواده د کدرونو او لوستو افغانانو د لا زیات وتلو بهیر ګړندی کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**څلورم:** اوسمهال د اسلامي امارت مخالفین د وسله وال مخالفت لپاره موجه دلیلونه نه لري، خو د نجونو پر تعلیم بندیز بیا یو له هغو دلایلو څخه دی چې د نظام مخالفین په ملي او نړیواله کچه ترې ګټه اخیستلی شي او په مرسته یې خپلې لیکې پیاوړې کولی شي. ځکه عملا داسې باور هم موجود دی، چې طالبان د عصري زده کړو مخالف دي او یا هم لږ تر لږه عصري زده کړو ته لږ اهمیت ورکوي.

**پنځم:** دا چې تر اوسه د اسلامي امارت چارواکو وخت نا وخت د ښوونځیو د نه پرانیستل کېدو لامل د خوندي چاپېریال نشتون یاد کړی او پرله پسې یې خلکو ته ژمنې ورکړې چې د نجونو پر مخ به ښوونځي پرانیستل کېږي، نو له همدې کبله خلک په یو ډول د انتظار په حال کې دي؛ خو له شک پرته که د نجونو د ښوونځیو د نه پرانیستل کېدو کومه قاطع پرېکړه ولیدل شي، داسې برېښي چې اکثریت افغانان به لاریونونو ته راووځي او د داسې پرېکړې پر وړاندې به په کلکه ودرېږي.

**شپږم:** ترټولو مهمه دا چې د ښځو عصري تعلیم په بېلابېلو برخو کې د هېواد د پرمختګ او پر ځان بسیا کېدو لپاره خورا مهم بلکې یو شرط بلل کېږي. همدا اوس د طب، ښوونې او روزنې، لوړو زده کړو، د حکومتولۍ بېلابېلو برخو او نورو ډېرو برخو کې لوستو ښځو ته شدیده اړتیا شته ده او که د نجونو پر تعلیم بندیز غځېږي، دا اړتیا به کال په کال لا پسې زیاتېږي او د ټولنې وګړي به ورځ تر بلې له ستونزو سره مخ کېږي.

## وړاندیزونه

د پورتني بحث په رڼا کې د دغې قضیې ژور اهمیت په کتلو سره لاندې ګامونه اوچتول پکار دي:

- د هېواد پر سیاسي او امنیتي ثبات او اوږدمهالي پرمختګ د نجونو د تعلیم د قضیې جدي اغېزو ته په کتلو سره اړتیا ده چې اسلامي امارت د نجونو د تعلیم قضیې ته د هېوادنیو لومړیتوبونو له جملې څخه د یوه مهم لومړیتوب په سترګه وګوري.
- اسلامي امارت باید د نجونو د تعلیم په قضیه کې د شته داخلي اختلافاتو له منځه وړلو لپاره ژر تر ژره اقدام وکړي او په دې تړاو جدي بحثونه پیل او ملت ترې خبر کړي.
- د نجونو د تعلیم په اړه د داخلي اختلافاتو او نورو ستونزو له منځه وړلو سره باید هر څومره ژر چې کېدای شي د اسلامي امارت مشرتابه خپله پالیسي د یوه فرمان له لارې روښانه کړي او د نجونو د ښوونځیو د پیل نېټه او څرنګوالی باید واضح کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- د نجونو د ښوونځیو تر یو کال زیات بند پاتې کېدو له کبله د درسونو د شاتګ جبرانېدو لپاره باید یوه واضحه او اغېزناکه تګلاره وړاندې شي.
- دا چې تراوسه تر ډېره د نجونو د ښوونځیو د نه پیلېدو لامل تخنیکي ستونزې بلل کېږي، که د نورو عواملو ترڅنګ دا هم واقعا د نجونو د ښوونځیو د نه پیلېدو لامل وي، باید ملت یې له جزئیاتو خبر کړل شي او هم یې ژر تر ژره د هوارولو لپاره اقدام وشي.
- د نجونو او هلکانو د جلا زده کړو په تړاو هېڅ ډول مخالفت او ستونزه نشته، بلکې عملا په تېرو دوو لسیزو کې د نجونو ښوونځي جلا وو، خو که دا مسئله یوه له هغو تخنیکي ستونزو څخه وي چې د نجونو د ښوونځیو پر بندیز د غځېدا لامل کېږي، نو لږ تر لږه د هغو ښوونځیو شمېر او جزئیات دې روښانه شي چې دا ستونزه پکې موجوده ده. په دې صورت کې که اړوند ښوونځي تړلي هم پاتې کېږي، ممکن اغېزې یې هومره زیاتې نه وي.
- د تخنیکي ستونزو په برخه کې ځینې وختونه د اقتصادي ستونزو خبره هم کېږي، د اقتصادي تشې د ډکولو لپاره ښایي له نړیوالو ارګانونو سره خبرې وشي او ښکاري چې نړیواله ټولنه به په دې برخه کې زیاتې مرستې وکړي.
- په تېر کابو یوه کال کې د نورو افغانانو ترڅنګ یو زیات شمېر لوستي ښځې هم له هېواده وتلې دي او تر دې وړاندې هم د ښځینه ښوونکو د کموالي ستونزه موجوده وه، خو بیا هم د هېواد په ټولو سیمو کې زیات شمېر لوستي مېرمنې شته چې دا تشه ډکولی شي، ځکه نو اړتیا ده چې د دې تشې ډکولو ته مخکې له مخکې اقدام وشي او لوستو مېرمنو ته د تدریس لپاره مناسبې اسانتیاوې رامنځته شي.

پای

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)